دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چي پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

الله پاک تاسي ته امر کوي چي امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چي کله مو د خلکو په مینځ کي پریکړه او حکم کاوو، نو باید په عدل او انصاف سره یې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسي ته ډېر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریدونکي او ښه لیدونکي دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از جابر (رضی الله عنه) روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: از ظلم بپرهیزید، زیرا ظلم تاریکی های روز قیامت است. و از آزمندی بپرهیزید، زیرا آزمندی مردمی را که پیش از شما بودند، هلاک ساخت، وادار شان کرد، تا خونهای شانرا بریزند، و محارم شانرا حلال شمارند. (الحدیث)

شهادت شپږم کال، ۱۰ مه ګڼه، پرله پسې ۲۵۴ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د غبرګولی ۶ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د رجب المرجب ۲۷ مه د۲۰۱۴ م د مي ۲۷ مه

محمود کرزی به تیم اصلاحات و همگرایی پیوست

کابل، رسانه ها:
محمود کرزی، برادر رییس جمهور کرزی و رهبر جریان توانمند سازی مردم افغانستان طی محفلی بروز دوشنبه ۵ جوزا حمایت خود و تیمش را از تیم اصلاحات و همگرایی اعلام کرد.
محمود کرزی علت پیوستن به تیم اصلاحات و همگرایی را برنامه های خوب اقتصادی این تیم عنوان کرد.
محمود کرزی در محفلی که به مناسبت پیوستن وی و تیم کاری اش به تیم داکتر عبدالله برگزار شده بود؛ گفت: برای حل مشکلات فعلی کشور، باید تدابیر جدی همچون تولید برق از منابع داخلی، ایجاد خط آهن و بازسازی جاده ها، استخراج معیاری معادن، توسعه صنعت، توسعه سکتور خصوصی و... گرفته شود.
وی افزود: "من همه این تدابیر اقتصادی خوب را در تیم اصلاحات و همگرایی دیدم و به همین دلیل حمایت خود را... (ص، ۴)

د ملي شورا سلګونو غړو د ډاکټر عبدالله عبدالله ملاتړ اعلان کړ

کابل، رسنۍ:
د اصلاحاتو او همپالنې ټیم ورځ په ورځ پراخیږي. له محمود کرزي وروسته د دوشنبې په ورځ د ملي شورا سلګونه غړو له دې ټیم نه خپل ملاتړ اعلان کړ.
په دې اړه جوړې شوې غونډې ته د ولسي جرګې غړي استاد اکبري ووېل، د اصلاحاتو او همپالنې ټیم یو ملي او مناسب ترکیب دی، چې د ملي یووالي تمثیل کوي. هغه پر ټاکنیزو کمېسیونونو نیوکې وکړې چې په لومړي پړاو کې یې پرېکړې عادلانه نه وې، که عبدالله په لومړي پړاو کې ګټونکی و.
استاد اکبري له ټاکنیزو کمېسیونونو وغوښتل چې په دویم پړاو کې بشپړ ناپیلتوب او شفافیت په پام کې ونیسي او له امنیتي ځواکونو یې د داړ امنیت د تامین هیله وکړه.
د ولسي جرګې بل غړي میرویس یاسیني ووېل، د هېواد په دې تاریخي او حساس پړاو کې افغانانو ته په کار ده چې... (۴ مخ)

هفتاد هزار کارت نظارت برای ناظران دو نامزد

کابل، رسانه ها:
نور محمد نور سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات می گوید که این کمیسیون برای هفتادهزار ناظر دو نامزد ریاست جمهوری اعتبار نامه داده است تا آنان از روند انتخابات نظارت کنند.
وی می افزاید که نامزدان ریاست جمهوری می توانند در روز انتخابات حتی در یک محل رای دهی دو ناظر را... (ص، ۴)

پکه دا دی لا بله سپکه

عبدالله کامه وال

(۳ مخ)

روی سخنم به ملت قهرمانم است

فدامحمد فایض

((مقایسه بین دو تیم موجود که باید در دور دوم انتخاباتی با هم بمصاف انتخاباتی بروند کار دشواری نیست:
۱- اعتقاد و تفکر سیاسی شان به مقایسه گرفته شود.
۲- ماضی هر دو بمقایسه گرفته شود.
۳- چه کسی در روزهای دشوار در کنار ملت قرار داشت و چه کسی در شیش محل های غرب زندگی غیر مسؤولانه بسر میبرد.
۴- چه تیمی برای فردای ملت برنامهٔ خوبی دارد و تا چه حد بر تعهداتش باور شده میتواند.
۵- در تیمها چه افرادی گرد آمده اند و در حضور آنها آمدن صلح به افغانستان تا چه حد ممکن است.)) (ص، ۲)

اوباما:

افغانستان کې خپله روانه جګړه پای ته رسوو

اوباما له ولسمشر حامد کرزي نه د بګرام په هوايي ډګر کې د لیدلو غوښتنه کړې وه؛ خو ولسمشر کرزي ونه منله

د امریکا ولسمشر بارک اوباما افغانستان ته د یوه ناڅاپي سفر پر مهال ژمنه کړې، چې په دغه هېواد کې به خپله روانه جګړه پای ته ورسوي.
نوموړي په باګرام پوځي اډې کې امریکايي پوځیانو ته د خپلې وینا پر مهال ووېل، چې د امریکا جګړه بیز ځواکونه به د ۲۰۱۴ کال تر پایه له افغانستانه ووځي.
"په تاسي کې به د ډېرو لپاره دا په افغانستان کې د ګومارنې وروستی پړاو وي، او د روان کال تر پایه به د لېږد بهیر بشپړ شي. افغانان به د خپل امنیت مسولیت پر غاړه واخلي او زموږ جګړه ییز ماموریت به... (۴ مخ)

نریندر مودي د هند د صدراعظم په توګه لوړه وکړه

د هندوستان په پارلماني ټاکنو کې د نیشلست ګوند بهارتیا جنتا، تر بریا وروسته نریندر مودي، د دغه هېواد د پنځلسم صدارعظم په توګه د خپلې کابینې له وزیرانو سره په ګډه لوړه وکړه. په دغو مراسمو کې کرزي او نوازشریف هم ګډون وکړ.

هندوستان، رسنۍ:
د هند جمهور رئیس پرناب مکهرجي، په سیمه ییز وخت د ماښام پر شپږو بجو نریندر مودي، ته سوګند ورکړ. "راځئ چې په ګډه د هغه یوه هند خوب وویښو چې پیاوړی، پرمختللی او متحد وي. هغه هند چې په نړۍ کې د سولې او پرمختیا له پاره له نړیوالې ټولنې سره فعاله ونډه ولري."
دا خبره د بهارتیا جنتا ګوند مشر او د هند نوي صدراعظم پر خپله انټرنیټ پاڼه کړې ده. ... (۴ مخ)

د ملي اردو د منسوبینو په موټر برید وشو

کابل؛
د افغانستان پلازمېنه کابل پرون له غرمې وروسته یوې درنې چاودنې ولړزوله.
چاودنه د دفاع وزارت پر کارکونکو د یوه برید پایله کې رامنځ ته شوه.
د کابل امنیې قوماندانۍ چارواکي وایي، د دوی د لومړنیو راپوړونو له مخې دا یو ځانمرګی برید و چې پرون ماسپښین درې بجې او پینځلس دقیقې په ملي بس ځلورلارې سیمه کې د دفاع وزارت د کارکوونکو د لېږد پر بس موټر شوی دی.
د افغانستان دفاع وزارت... (۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د انتخاباتو دوهم پړاو او د قومي عصبيت غوغا

د انتخاباتو لومړی پړاو زموږ په مخ کې دی، د انتخاباتو کميسيون له خوا چې له رأيو سره کوم چلند وشو، هغه هم څه پټه خبره نه ده. نتيجه دا شوه چې انتخابات دوهم پړاو ته ولاړل نه؛ بلکې بوتلل شول، په دې کې زياتره دهغو کسانو لاس هم کيدای شي چې د عصبيت په خم کې رنگ شوي دي. ښايي له هغو سره د کاميابۍ په صورت کې د لا غوښنو امتيازاتو ژمنې هم شوې وي؛ خو که دا انتخابات دوهم پړاو ته ولاړل هم زموږ باور دا دی چې هغه څوک به يې گټي چې په لومړي پړاو کې يې تر ټولو زياتې رأيې واخستی. د اصلاحاتو او همپالنې ټيم له هغو سياسي قوتونو نه جوړ دی چې په ملت کې ژورې ريښې لري. په دوهم پړاو کې نوي سياسي او جهادي قوتونه هم څوک ورسره يوځای شول او څوک د يو ځای کېدو په درشل کې دي، له همدې لامله د ناکامۍ پر درشل ولاړ ټيم اوس د يوه معقول دريځ پرځای تهاجمي سياست غوره کړی دی؛ خو د اصلاحاتو او همپالنې د ټيم سياست پر تعقل او تدبر ولاړ دی او ځان پر دې مکلف هم نه بولي چې د مقابل لوري په هر راز چغو او ناندريو سر وخوږوي.

اوس مقابل لوري ته يوه لاره پاتې ده او هغه دا چې نور پر قومي عصبيت تورن کړي يعنی د خپل بام واورې د بل پر بام واچوي؛ خو دغه فاسده متاع په افغاني ټولنه کې خريداران نه لري.

د اصلاحاتو او همپالنې ټيم د ملي وحدت او اسلامي اخوت له شعار سره سر راپورته کړی دی، پر خپلو ديني او مذهبي معتقداتو او ملي گټو او ملي حاکميت پوره باور لري او له هيڅا سره داسې ژمنې نه لري چې زموږ دغو ارزښتونو ته صدمه ورسوي.

افغانستان د تاريخ په اوږدو کې د نړۍ د ډېرو نورو هېوادو په څېر يو کثيرالقومي هېواد پاتې شوی؛ خو هميشه يې په ورورولۍ کې ژوند کړی؛ نو ځکه موږ په افغانستان کې ميشتو قومونو ته «د ورونو قومونو» خطاب کوو، زموږ دين او مذهب سره شريک دي، ملي گټې مو سره شريکې دي، نړيوال عزت او وقار مو سره شريک دی او دغسی په لسگونو نور مشترکات؛ په يوه هېواد کې اوسو که يوازې يو په پښتو غږېږي بل په دري، بل په ازبکي او بل په کومه بله ژبه دا کوم داسې توپير نه دی چې زموږ ترمنځ خدای مه کړه د بېلتون کرښې وکاږلی شي، موږ سره ورونه وو، ورونه يو او ورونه به وو.

د عصبيتونو غږ هغه څوک پورته کوي چې هغه نوره اجندا نه لري؛ خو د افغان ولس سياسي شعور اوس د ودې هغه پړاو ته رسيدلی چې پر دغو مغرضانه خبرو ښه پوهېږي. څوک چې سره ورورې نه کوي که د يوه قوم او يوې ژبې خلک وي هم نه يې کوي، ډېر ښه مثال يې عربي هېوادونه دي چې د آسيا او افريقا په دوو براعظمونو کې پراته دي او بلکې زياتره په خپلو کې سره غوښه چاړه دي، ځينی خو په يوه هېواد کې هم سره ويشل شوی چې ډېر ښه مثال يې فلسطين دی، الفتح جلا ده او حماس جلا. د اصلاحاتو او همپالنې ټيم به خپل اسلامي سياست اعمالوي د ولس مختلفی پرگنې به پر يوه محور سره راټولوي، هغه څوک چې د قومي او ژبنيو عصبيتونو ډمامې غږوي، مخ به يې تورېږي او څه به لاس ته نه ورځي. موږ همدا اوس خبر يو چې چا هرات ته داسې کسان استولی چې په پښتنو کې عصبيت خپور کړي؛ هو څوک چې د خپلې ناکامۍ خوبونه گوري هرې ناروا حربې ته لاس اچوي، خو دا ټولې ځلې به يې ان شاء الله د اوبو ځگ جوتېږي.

✍ فدا محمد فايض

روی سخنم به ملت قهرمانم است

افغانستان سومین بار است که فرصت می یابد قیادت خود را از طریق انتخابات آزاد خود انتخاب نماید. گرچه با کودتای ۲۶ سرطان ۱۳۵۲ بساط رژیمهای سلطنتی در نوردیده شد؛ اما داوودخان هم حاضر نشد از طریق انتخابات آزاد و سرتاسری بریاست جمهوری برگزیده شود؛ بلکه یک لویه جرگهٔ فرمایشی را فراخواند و خود را بحیث رئیس جمهور انتخاب نمود و به انتخاب خود به زعم خودش یک صبغهٔ قانونی بخشید. در زمان کمونستها که وضعیت به کلی تغییر کرد، طالبان هم با اعمال زور قسمتی از کشور را در اشغال خود درآوردند؛ ولی حاضر نشدند که یا لویه جرگه یی یا شورای اهل حل و عقدی و یا انتخابات عمومی برگزار کنند؛ زیرا آنها میدانستند که چهره های معروف و شناخته شده یی در کشور نیستند، فلهذا بدون اعمال زور راه دیگری پیش روی ندارند.

گرچه کنفرانس بن با تعجیل فراوان و با یک عالم اشتباهات یا عمدی یا غیر عمدی تدویر یافت و راه حل اساسی و دایمیی برای بحران کشور ما جستجو نگردید که ما اثرات ناگوار آن را در حاکمیت سیزده سالهٔ آقای کرزی دیدیم، اگر حکومت بجای خود کاستیهای خود را داشت؛ ولی اساساً تهداب هم متأسفانه کج نهاده شده بود که نتیجهٔ آن بصورت طبیعی همان سان میشد که شد؛ ولی اینقدر شد که قوای ثلاثه تشکیل شد، قانون اساسی بوجود آمد و انتخابات بحیث راه گزینش زعامت کشور و شوراهای ملی و محلی پذیرفته شد. انتخابات در تاریخ دین مقدس اسلام هم سابقه دارد؛ زیرا خلفای راشدین همه از طریق انتخابات آزاد و از طریق بیعت برگزیده شدند؛ ولی وقتی سیستم میراثی بوجود آمد، یا به تعبیر دیگر انتصاب جای انتخاب را گرفت از منهج اصیل اسلامی انحراف بمیان آمد از همینجاست که نابغهٔ شرق حکیم الامت علامه اقبال می فرماید:

عجم خود را بنور مصطفی سوخت
چراغ مردهٔ مشرق بر افروخت
ولیکن آن خلافت راه گم کرد
که اول مؤمنان را شاهی آموخت

امروز در دنیا نهضتهای اصیل اسلامی هم انتخابات را بحیث گزینش زعامتها و نماینده های ملت پذیرفته اند، البته انتخابات در اسلام ویژگیهای خاص خود را هم دارد که بحث در آن مورد از محدوده این مقال بیرون است؛ ولی همینقدر باید بدانیم که ما برای گزینش زعامت فقط راه انتخاب را پیش رو داریم.

دور اول انتخابات انجام شد، و براساس قانون انتخابات دو نامزد پیشتاز که کمیسیون انتخابات یکی را هم برنده اعلان نکرد با تفاوت چشمگیر آرا به دور دوم رفتند که ان شاء الله بتاریخ ۲۴ جوزا اگر حیات بود شاهد دور دوم انتخابات خواهیم بود.

حال روی سخنم به هموطنان عزیزم هست.

انتخابات یک پروسه ملی است که بنیاد دینی هم دارد، بناءً با این پروسه نباید از روی احساسات، تعصبات و سلیقوی برخورد شود، این انتخابات در حقیقت یک ازمون شعور دینی و سیاسی ملت هم هست، خدا کند ملت ما ازین انتخابات سرافراز بدر آید.

البته مقایسه در بین دو نامزد باقی مانده در عرصهٔ انتخابات امر دشواری هم نیست. ملت باید به دنبال تبلیغات نورد بلکه هر فرد ملت خود بیندیشد، رأی هم یک امانت دینی است و هم یک امانت ملی و خداوند (جل جلاله) هم میفرماید: امانت را به اهلش بسپارید و این حکم است. طبعاً اگر ما قومی بیندیشیم، سلیقوی بیندیشیم و یا بخاطر منافع مادی و امتیازات مادی بیندیشیم ره گم خواهیم کرد، خیلی از برادران حتی برادران مبارز ما از خود متاع کس مخر ساختند یک روز به یک سو رفتند و روز دیگر بسوی دیگر و حتی با کسانی یکجا شدند که از لحاظ تفکر سیاسی و خط مبارزاتی تفاوت زمین تا آسمان دارند؛ ولی خوب نفس اماره بالسوء هم کارهایی میکنند.

مقایسه بین دو تیم موجود که باید در دور دوم انتخاباتی با هم بمصاف انتخاباتی بروند کار دشواری نیست:

۱- اعتقاد و تفکر سیاسی شان به مقایسه گرفته شود.

۲- ماضی هر دو بمقایسه گرفته شود.

۳- چه کسی در روزهای دشوار در کنار ملت قرار داشت و چه کسی در شیش محل های غرب زندگی غیر مسؤولانه بسر میبرد.

۴- چه تیمی برای فردای ملت برنامهٔ خوبی دارد و تا چه حد بر تعهداتش باور شده میتواند.

۵- در تیمها چه افرادی گرد آمده اند و در حضور آنها آمدن صلح به افغانستان تا چه حد ممکن است.

و مانند این موارد دیگر.

ملت عزیز و قهرمان!

شما مسؤولیت بس خطیر دارید این مرحله، مرحلهٔ نهایی انتخاب زعامت کشور است، اینکه شما سرنوشت خود و کشور تانرا در دست چه کسی قرار میدهید مربوط بشماست؛ ولی فردا باز اگر قضاوت درست نکردید حق شکایت را نخواهید داشت.

ملت افغانستان باید تنها همین سیزده سال اخیر را درنظر نگیرد؛ بلکه کم از کم چهار دههٔ گذشته را درنظر داشته باشد، که بر سرش چه روزهای دشوار آمد و برای رسیدن به یک هدف عالی چه قربانیهایی که نداد. اگر ملت افغانستان در نتیجهٔ انتخاب نادرست این همه قربانیها را بباد فنا میدهد، فردا مسؤولیت قضاوت نادرست را خود بر دوش خواهد داشت و آنگاه پشیمانی سودی نخواهد داشت؛ زیرا ملت برای پنج سال سرنوشت کشور را به یک تیم میسپارد.

البته ما از داشتن روابط دوستانه با جامعهٔ بین المللی بی نیاز نخواهیم بود؛ ولی چه کسی میتواند این روابط را در حدی نگه دارد که ارزشهای اعتقادی و منافع ملی ما نادیده گرفته نشود ایا تیمی که در سنگر جهاد قرار داشت و یا تیمی که از دویدن در رکاب کمونیزم تا دویدن در رکاب اجنبیهای دیگر قدم رنجه نموده است.

عبدالله کامه وال

پکه دا دی لا بله سپکه

تیره ورځ په کابل کې یو شمیر بریښنایي رسنیو یو دردونکې او شرمونکی راپورخپور کړ، چې زما په څیر به د ډیرو افغانانو لپاره یو بد او د اوونی تر ټولو دردونکی خبر و.

د خبر په لوستو مې غوني زیږ او ویښته مې نیغ ودریده چې داد دیموکراسی ترنامه لاندې فرهنګي یرغل به زموږ پرولس نورې څومره نادودې کوي او دا تش په نامه دیموکراسي به زموږ پر کلتوري او ملي ارزښتونو نورې څومره ملنډې وهي او تر کومې به مو د پردي فرهنګ او کلتور غیږ ته وروغورزوي. د دې خبرپه لوستو به دهر با ننګه افغان احساسات راپاریدلی وي.

پدې خبرکې چې د افغانستان په محاکمو کې د یو تن مدافع وکیل، په حواله یی لیکي وایي چې په کابل کې یوه مؤسسه له څه مودې راهیسې پدې بوخته ده چې ځنګه افغانانې دخپلو جامو له اغوستلو لاس په سر کړی او د یو بربنډ لباس اغوستوته یې وهڅوي. یاد افغان وایي چې موسسه افغان پیغلې د درې سوه ډالر په بدل کې د دوی په خوښه په بربنډ لباس ملبسې کوي او د ښار بیلا بیلو برخو کې ورته د ګرځیدو امر کوي.

عبدالقدیر هوشنګ چې په افغاني محاکمو کې یو مدافع وکیل دی، وایي چې یاده مؤسسه په کابل کې د (شبنامه زنان افغانستان) پر نوم پټ فعالیت کوي، چې تراوسه ورسره سلګونه نجونې راجستر دي او پدې بوختې دي چې ځنګه وکولای شي زموږ ځوانې نجونې د خپلې اصیلې افغاني جامې پرځایی غربي او فحش لباس واغوندي. د هوشنګ په وینا د دوی هڅه داده چې دښارپه واټونوکې د داډول نجونو ګرزیدا راګرزیدا زیاته شي چې نورې ځوانې نجونې یې هم تقلید وکړي.

په همدې ډول یو بل افغان چې د لوګر اوسېدونکی دی او نه غواړي نوم یې افشا شي او پدې موسسه کې دڅه مودې راهیسې په کار بوخت دی، وایي چې دغه مؤسسه له څو کلونو راهیسې په هېواد کې فعالیت کوي، چې د دوی له خوا ګمارل شوې نجونې د ښار په ګڼې ګوڼې ځایونو کې ګرځي او د دوی په فرمایش اغوستل شوی نیم بربنډ لباس د خلکو په ذهن کې یو عادي کار تداعي کوي.

د دې مؤسسې راز هغه وخت افشا شو، چې د کابل په تایمني کې یو کور په کرایه ونیولو، او له هغه ځایه خلکو ته پته ولګیده چې پدې کورکې یاده موسسه په ورته کارونو بوخته ده. د هوشنګ پر وینا دیادې موسسې سره په مالي برخه کې یوې مدني فعالې او د زړورتیا د جایزې ګټونکې ملالی جویا له خوا هم تر اوسه یو میلیون ډالر مرسته شوې ده.

په کابل کې د فحشاء او بې دینی دا ډول مراکز نور هم شته چې خلک او په ځانګړې توګه ځوانان بې دینی ته هڅوي. د وحیدالله په نامه یوتن وایي چې یوه بله مؤسسه په کابل کې د دې لپاره په فعالیت بوخته ده، چې په عام محضر کې ځوانان د فرض روژو خوړلو ته تیارکړي چې دیادې موسسې له لورې ورته څلور سوه امریکایی ډالر میاشتنی معاش ورکول کیږي. د وحیدالله په خبره په تېره روژه کې د ده شپږو ملګرو د دې مؤسسې همکارې منلې وه، چې د میرویس میدان په دشت برچي سیمه کې یې د روژې خوړلو دنده پر مخ بیوله.

تراوسه پورې دولتي مسوولینو د دې مؤسسو اړوند څه نه دي ویلي، ولې په مرکز او ولایاتو کې ګڼ نظامي او ملکي چارواکي د روژې خوړلو په حال کې لیدل شوي دي. د دې ترڅنګ یو شمیر هوټلونه او مهمانخانې هم په کابل او ځینو ولایتونوکې په ورته بې دینه او فاحشو چارو بوختې دي او دا چاره ورځ تر بلې زیاتیږي که دولت د داډول چارو مخه ونه نیسي نو شاید زموږ ځوان نسل به دیو لوی فرهنګي او کلتوري یرغل ترڅنګ د دیني شعایرو سره همداسې چلند وکړي چې وروسته به یې کنترول سخت کار وي.

(له نن آسیا وېب پاڼې په حواله)

افغانستان د سیاسي پرمختګ په لور اوچت ګامونه اخلي

فروغګر

تیر انتخابات چې که خدای کول دوهم پړاو به یې د غبرګولی میاشتی په ۲۴ نېټه ترسره شي نړیوالو ته دا وښوده چې افغان اولس، اوس هغه ولس نه دی چې نور خلک ورته زعامتونه جوړ کړي، نور خلک پرې خپل حکم وچلوي او د نورو په لمسون خپل ملي وحدت تس نس کړي. د تېرو ټاکنو په بهیر کې خلک د ټاکنو محلونو او مرکزونو ته د نورو په فشار تهدید او هڅونو سره نه وو تللي او نه به د دغو ټاکنو په دوهم پړاو کې د نورو تر قیمومیت لاندې پر دغه بهیر ورګډ شي؛ بلکې ددې برعکس چې څومره زمونږ اولس وګواښل شو، وویرول شو، پټکې پرې وشوې چې په انتخاباتو کې ونډه وانخلی په هماغه پیمانه بلکې تر هغې زیات دوی د رأیو محلونو او مرکزونو ته لاړل او د خپلې خوښې نوماند ته یې خپلې رایې استعمال کړې.

داخلي او بهرنیو رسنیو، همدارنګه د چارو پوهانو ددغو ټاکنو د ځلولو په اړه په خپلو څرګندونو کې په زغرده وویل چې ان په متمدنه او پرمختللې نړۍ کې هم تراوسه دومره منظمې ټاکنې چې خلکو په کې دومره په شور او ولولو سره برخه اخیستی وي نه دي ترسره شوي، واشنګټن پوست د افغانستان پر انتخاباتو د یوې تبصرې په ترڅ کې لیکلي وو چې افغان اولس په ټاکنو کې پر خپل پراخ او منظم ګډون خپلو ټولو دښمنانو ته ماتې ورکړه، دغې خپرونې زیاته کړې وه چې نن افغان اولس په خپل هېواد کې د ټاکنو په غبرګون سره مخالفینو ته د رد ځواب ورکړ او پر دې یې پوه کړ چې تاسې د افغان اولس د رهبرۍ جوګه نه یاست.

همدارنګه نړیوالو سترو شخصیتونو، رهبرانو، جمهورو رئیسانو او صدراعظمانو افغان مشرتابه ته ددې ټاکنو د برې مبارکي وویله او د ستاینو په څنګ کې یې له افغان ټاکنو خپل ملاتړ اعلان کړ.

د ټاکنو په لومړی پړاو کې دوه و مخکښو نوماندانو یو هم ونشو کړی چې ۵۰ + ۱ سلنه پوره کړي؛ البته هغې مهندسی، چې په دې اړه شوې وه پرینښودل هغه نوماند چې ۵۶ ٪ رأیې وړې وې بریالی اعلان شي؛ نو په طبیعي ډول ټاکنې دوهم پړاو ته ولېږدول شوې، چې پر دې باوري یو چې د ټاکنو په دوهم پړاو کې به هم زموږ ویښ اولس هماغسې په شور او زوږ سره ګډون وکړي لکه لومړی هغه؛ مګر زموږ داخلي او بهرني دښمنان هڅه کوي چې د انتخاباتو دوهم دور له ستونزو او ګواښونو سره مخ کړي؛ ځکه د هېواد په بېلا بېلو برخو کې عملیاتو زور اخیستی او دهغه په څنګ کې ځینې رسنۍ داسې تبلیغات کوي چې دا ځل به زمونږ اولس د لومړي دور په شان په ټاکنو کې ګډون ونکړي. حال دا چې له خورا ناامنو ولایتونو داسې رپوټونه لرو چې دهغو سیمو خلکو له دولته غوښتي دي چې دوی ته داسې فضا رامنځ ته کړي چې تر پخوا په زیاته پیمانه په ټاکنو کې ګډون وکړي. له بله پلوه دغه مغرضې رسنۍ استدلال کوي چې دا ځل به د دولت مخالفین د هوا له ګرمیدو نه په استفادې سره د هېواد په بېلا بېلو برخو کې ټاکنې ونکړوي، اما موږ د ټاکنو په لومړي پړاو کې هم ولیدل چې دغو مخالفینو ډیرې هڅې وکړې چې انتخابات ونکړوي، مګر د هېواد په هر ولایت کې له ناکامۍ سره مخ شول، د ملي امنیت د رپوټونو له مخې ۶۳ ځانمرګی بریدګر د هېواد په لرو بر کې ونیول شول څو شپیته هغه موټرونه هم ونیول شول چې په ماینونو ډک او د چولو لپاره اماده و او د مخالفینو په سلګونو بریدونه شنډ کړای شول، له همدې لامله دوی د انتخاباتو تر پایه پورې ونشو کړای دغه بهیر چیرته ودروي او یا یې له ستونزو سره مخ کړي. د هېواد له ۳۴ ولایتونو پرله پسې رپوټونه رسېږي چې خلک دا ځل تر پخوا زیات په ټاکنو کې د ګډون لیوال دي.

دغه څرګندونې او د ټاکنو په لومړی پړاو کې د افغان اولس بری دا ښیي چې زمونږ اولس نور پوره سیاسي بلوغ ته رسیدلی او نور هیڅ زورمند، داخلي او بهرني دښمنان نشي کولای ددوی د آراو مخه ونیسي، مطمئن یو چې زمونږ باتور مؤمن اولس به د ټاکنو په دوهم پړاو کې هم په هماغسی شور او زوږ ګډون کوي لکه لومړی هغه ... او ان شاء الله زموږ هېواد به له ټاکنو وروسته د هر ډول ننګونې د مقابلې توان ترلاسه کړي او د نوي زعامت په مشرتابه کې به د خپل هېواد په امنیت، رغونې، بیارغونې او پرمختګ کې ګړندي ګامونه اخلي او زموږ هېواد به د لا ثبات او امنیت خواته پرمخ ځي.

د افغانستان پاکستان او تاجکستان هیوادونه ترانزیتي تړون لاسلیکوي!

همت صدیقي

د جمهور رئیس حامد کرزي له حکومته ۱۲ کلونه تیر شول، ددې دولسو کلونو په دوران کې موږ د سوداګرۍ، پانګونې او ترانزیټ په برخو کې ولیدل چې یو شمېر هېوادونو په دغو ټولو برخو کې، تراوسه پورې فقط مونږ ته ستونزی پیدا کړی، نور حرام شه که د افغان مسلمان ولس پر دغو ستونزو یې ذری هومره هغه کردار ترسره کړی وي چې یو مسلمان هېواد ته ښایي.

که څه هم ټاکل شوې چې د افغانستان، پاکستان او تاجکستان ترمنځ د سوداګریزو ترانزیتي همکاریو هوکړه لیک امضاء شي. د سوداګرۍ او صنایعو وزارت ویاند پرون په کابل کې یوې خبري غونډې ته وویل چې دری ورځې وړاندې د تاجسکتان په پلازمینه کې د سوداګریزو او ترانزیتي همکاریو د کچې د لوړوالي په هدف د درې واړو هېوادونو د استازیو ناسته ترسره شوه، که څه هم نوموړی په راتلونکې کې ددغه تړون د لاسلیک خبر ورکړ، خو کره نیټه یې څرګنده نه کړه، ویاند زیاته کړه چې درې کاله مخکې د افغانستان او پاکستان ترمنځ ترانزیتي او سوداګریز هوکړه لیک (اپټا) لاسلیک شو؛ خو په دغه هوکړه لیک کې ځینې ستونزې لکه د پاکستان په بانکونو کې د افغان سوداګرو بانکي ضمانتونه اېښودل او نور ... د افغان سوداګرو او په ټولیزه کې د افغانستان په تاوان و. ویاند قوقندي وویل چې د دوشنبې په ناسته کې غوښتنه وشوه چې (اوپټا) د افغانستان، پاکستان او تاجکستان د سوداګریزو همکاریو په هوکړه لیک بدل شي.

خو د افغانستان د اقتصادي چارو کارپوهان په دې برخه کې وایي:

ځینی هېوادونه هغه هېوادونه دي چې سربیره پر نورو زیانونو یې چې افغانستان ته اړولی د تیرو دولسو کلونو په دوران کې یې زموږ دولت او ملي سوداګرو ته په ملیاردونو ډالر تاوان اړولی، هغوی ددې خبرې د ثبوت لپاره د افغان سوداګرو او تجارت خونو هغه دلایل وړاندې کوي چې دغه هېواد، په تېرو مودو کې د همسایه هېوادو په بندرونو کې په وار وار د افغان سوداګرو تجارتي مالونه، بی له کوم بین المللي مجازه په میاشتو او ان په کلونو بند ساتلي او نه یې دي پرېښي چې دا مال افغانستان ته ولېږدول شي. همدارنګه، د سیمې له ځینو هېوادو سره مونږ لرغوني ترانزیتي او سوداګریزې اړیکې لرو؛ خو ځینو ګاونډیانو تر اوسه پورې افغانستان ته داسې ډادمنه لار ورنکړه چې خپل سوداګریز توکي د واګې له لارې پاکستان او بیا افغانستان ته ورسوي او چیرته یې چې لاس بر شو پر افغانستان، د افغانستان پر خلکو او اقتصاد یې ګوزارونه وکړل.

د افغانستان د تجارت او صنایعو خونه، اقتصادي کارپوهان او سوداګر په دې اند دي چې له دغه ډول خونو سره خپلې تجارتي راکړې ورکړې لږې کړي او د ضرورت پر مهال باید دغه راکړه ورکړه باید بالکل بند کاندي، ځکه دغه هېوادونه له موږ سره په هره چاره کې له دوه مخیز سیاسته کار اخلي او هڅه کوي چې موږ ته زیان واړوي؛ نو په دې صورت کې څوک دا ویلی شي چې له دغو ډول هېوادو سره سوداګریزې معاملې وکړو؟!

موږ متبادلې لارې هم لرو چې زمونږ د وارداتو او صادراتو ستونزې حل کړي؛ مثلاً د ایران «چابهار بندر» چې زمونږ نور دوست هېوادونه هم له همدغې لارې خپل صادرات افغانستان ته لېږدوي او هند خو څو موده مخکې پر دې بندر باندې د خپلو سوداګریزو ستونزو د حل لپاره (۱۲۰) میلیونه ډالره پانګونه هم کې ده. همدارنګه له منځنی آسیا هېواد او روسیې سره موږ پولې لرو چې دهغو پولو د ترانزیتي لارو نه په استفادی سره کولای شو د خپلو صادراتو او وارداتو لپاره لاره هواره کړو.

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان تدراني ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوي مطالب نه مستردېږي - بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزی رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

شهادت شپږم کال، ۱۰ مه ګڼه، پرله پسې ۲۵۴ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د غبرګولی ۶ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د رجب المرجب ۲۷ مه د ۲۰۱۴ م د مې ۲۷ مه ۴

محمود کرزی به تیم ...

از این تیم اعلام می کنم ".
داکتر عبدالله عبدالله هم در این محفل پیوستن محمود کرزی را به تیم اصلاحات و همگرایی بر اساس توافق بر برنامه های اقتصادی دو تیم دانست.
داکتر عبدالله عبدالله با استقبال از استعفای محمد قربان حقجو، رییس پیشین هیات عامل اتاق تجارت افغانستان به منظور حمایت از تیم اصلاحات و همگرایی گفت: استعفای آقای حقجو برای حمایت از تیم اصلاحات و همگرایی یک درس بزرگ برای کسانی است که ادعا و عملشان از هم متفاوت است.
داکتر عبدالله تاکید کرد که تیم وی در دور دوم انتخابات نیز مبارزات انتخاباتی بسیار سالم و بر مبنای وحدت ملی را پیش خواهد برد.
رهبر تیم اصلاحات و همگرایی گفت: "ما خواستار روابط خوب با همسایه ها هستیم. ولی منافع ملی کشور در صدر برنامه هایمان قرار خواهد داشت ".
وی همچنین با اشاره به تصویب نشدن قانون تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم، اذعان داشت که اگر این قانون به زودی تصویب نشود؛ ممکن است کشور با یک بحران جدی روبرو شود.
آقای عبدالله تصویب نشدن قانون تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم را نیز ضعف حکومت دانسته و از نمایندگان مجلس خواست تا با احساس مسوولیت به این موضوع رسیدگی کنند.
گفتنی است که محمود کرزی، برادر رییس جمهور کرزی و از تاجران مطرح کشور در حالی از تیم اصلاحات و همگرایی حمایت خود را اعلام می کند که امرالله صالح رهبر روند سبز و محمدقربان حقجو رییس هیات عامل اتاق تجارت نیز حمایت خود را از تیم اصلاحات و همگرایی اعلام کرده اند.

د ملي شورا سلګونه غړو ...

سالمه پربکړه وکړي.
هغه له خلکو وغوښتل چې د لومړي پړاو په څېر دې د ټاکنو په دویم پړاو کې هم پراخ ګډون وکړي، څو د عدالت پلي کېدو او په هېواد کې سالمې اداري رامنځته کېدو ته زمینه برابره شي.
هغه ویاړ وښود، چې د اصلاحاتو او همپالنې له تیم نه ملاتړ کوي: "د خلکو له رایو نه باید ناوړه ګټه واخیستل شي. خلک دې له خپلو رایو نه په خپله دفاع وکړي. له خپل ملي هویت نه دې دفاع وکړي. او هیچا ته دې اجازه نه ورکوي، چې له رایو نه سوء استفاده وکړي. "
ښاغلي یاسیني افغان ملت یو او نه بېلېدونکی وباله او زیاته یې کړه، چې هېڅوک یې نشي وېشلی او نه نور ملت د خلکو په تشو ژمنو غولېږي.
د غونډې بله ویناواله د ولسي جرګې غړې فوزیه کوفي وه. هغې وویل، ډاکټر عبدالله وکولای شول، چې په تېرو څو کلونو کې بېلابېل سیاسي ګوندونه سره په یوه محور راټول کړي، چې د ښځو سیاسي ګوندونو هم په کې شتون لري او دا په هېواد کې بېساری اقدام و.
هغې زیاته کړه، اوس دا ثابته شوې چې ډاکټر عبدالله عبدالله له اوسني ناورین نه د هېواد ژغورنې او خلکو ته د خدمت کولو وړتیا لري.
اغلې کوفي وویل، په لومړي پړاو کې کابو ۳۶ سلنه ښځو ډاکټر عبدالله عبدالله ته رایه ورکړې، چې په دویم پړاو کې به دا شمېره نور هم لوړه شي.
دې زیاته کړه، دا چې د غبرګولي ۲۴ مه د مور ورځ ده؛ نو ټولې ښځې دې د دې ورځې په احترام رایه ورکړي.
غونډې ته د ملي شورا د دواړو خونو نورو غړو هم ویناوې وکړې او خپل ملاتړ یې د اصلاحاتو او همپالنې له تیم نه اعلان کړ.
وروسته د اصلاحاتو او همپالنې د تیم مشر او د ولسمشرۍ مخکښ نوماند ډاکټر عبدالله عبدالله وینا وکړه او د ملي شورا له غړو نه یې په مننې سره ژمنه وکړه، چې حکومت به یې خلکو او هېواد ته په خدمت کولو کې رښتینی وي.
نوموړي له ده نه د ملي شورا ملاتړ یوه نه هېرېدونکې خاطره وبلله او زیاته یې کړه، چې د ملي شورا غړي دې خپل خلک وهڅوي چې په دویم پړاو ټاکنو کې برخه واخلي او رایه ورکړي.
هغه وویل، وکیلان او سناتوران باید د افغانستان کلي کلي ته د امنیت او ثبات پیغام ورسوي.
ډاکټر عبدالله له ټاکنیزو کمېسیونونو وغوښتل، چې شفافیت او عدالت ته پام وکړي: "کمېسیونونه باید جدي اقدامات وکړي، څو د افغانستان خلکو ته د ټاکنو دشفافیت او عدالت پیام ورکړل شي. د درغلیو مخه دې ونیسي. دې مسایلو ته باید جدي پام وشي. "
هغه د امریکایي ولسمشر باراک اوباما د وروستیو څرګندونو چې په افغانستان کې یې له رڼو او عادلانه ټاکنو ملاتړ کړی و، هرکلی وکړ او ویې ویل، د خوښۍ خبره ده چې امریکا او نړۍ واله ټولنه د ټاکنو له شفافې پروسې ملاتړ کوي؛ خو دا ملاتړ د یوه نوماند په ګټه او زیان نه دی.
هغه وویل، له دې هم خوښ دی چې د محاربوي عملیاتو مشري افغان ځواکونو په خپله غاړه اخیستې او بهرني ځواکونه یې د ملاتړي رول خپل کړی دی.
د ولسمشرۍ دغه مخکښ نوماند له افغانستان او افغان پوځ سره د امریکا او نړۍ والې ټولنې له مرستو مننه وکړه او هیله یې وکړه، چې افغان ځواکونه وتوانېږي په بشپړ ډول امنیت تامین کړي.
نوموړي یو ځل بیا په ملي یووالي ټینګار وکړ او ویې ویل، ځینې کړی او خلک شته چې غواړي په هېواد کې ملي یووالی زیانمن او د افغانانو ترمنځ ژبنیو، سمتي او مذهبي مسایلو ته لمن ووهي.
هغه له ټولو افغانانو وغوښتل چې له یو بل سره لاسونه ورکړي او د دښمن دغه پیل شوې توطیې شنډې کړي.

افغانستان کې خپله روانه ...

پای ته ورسیږي. په افغانستان کې به د امریکا جګړه په مسولانه ډول پای ته ورسیږي. "
نوموړي همداراز زیاته کړه، چې د افغانستان د راتلونکي ولسمشر لخوا له امریکا سره د امنیتي سند د لاسلیکېدو په صورت کې به امریکا له دغه هېواد سره خپله ژمنتیا روانه وساتي.
ښاغلي اوباما په یو ناڅاپي سفر افغانستان ته لاړ او په بګرام کې یې امریکایي ځواکونو ته وینا وکړه.
ښاغلي اوباما خپله وینا په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو له قوماندان جنرال ډانفورډ او امریکا د سفیر جیمز کنینګهم نه په مننې پیل کړه.
ولسمشر بارک اوباما امریکایي ځواکونو ته په وینا کې وویل "زه د دې لپاره دلته راغلی یم چې له تاسو نه مننه وکړم. "
هغه امریکایي ځواکونو ته وویل هغه پوځیان چې دلته په افغانستان کې ماموریت ترسره کوي ښایي په دې بنه یوه نه شي چې په امریکا کې څومره یادېږي.
ولسمشر اوباما وویل زه د همدې لپاره راغلی یم چې تاسو ته ووایم چې کله خبره ستاسو د ملاتړ شي نو ټول امریکایان ستاسو او ستاسو د کورنیو ملاتړ کوي.
ولسمشر اوباما وویل دا د امریکایي ځواکونو لپاره د ویاړ خبره ده چې په لومړي ځل افغان امنیتي ځواکونو چې په خبره یې امریکایي ځواکونو روزلي دي د خپل امنیت ساتلو واکې په خپلو لاسونو کې واخیستې.
هغه وویل زموږ جګړه پیز ماموریت به د روان کال تر پایه پای ته ورسیږي او د ملاتړ په ماموریت به بدل شي.
د امریکا ولسمشر په نیویارک کې د سپتمبر د یولسمې نیټې د ترهګرو بریدونو په یاد جوړ شوي موزیم یادونه وکړه او امریکایي پوځیانو ته یې وویل "تاسو په دې خاطر دلته راغلي یاست چې د سپتمبر د یولسمې نیټې په څېر د نورو ترهګرو بریدونو مخنیوی شوی وي ".
ښاغلي اوباما افغانستان یو خطرناک ځای وباله امریکایي پوځیانو ته یې په خبرو کې وویل ستاسو د قربانیو او حضور له امله دلته ډېر پرمختګ شوی دی.
ولسمشر اوباما د بېلګې په توګه د افغانستان د ټاکنو لپاره د خلکو نوم لیکنه یاده او ویې ویل چې له ټولو ګواښونو سره سره افغانانو د رایې اچونې لپاره خپل نومونه ولیکل او رایې یې ورکړې.
ولسمشر بارک اوباما وویل سره له دې چې د ۲۰۱۴ کال ترپایه به په افغانستان کې د امریکا پوځي ماموریت پای ته ورسېږي خو امریکا به له افغانستان سره د افغان ځواکونو د روزنې او القاعده شبکې په خپلو کې همکاره پاتې شي.
امریکا غواړي چې خپل یو شمېر پوځیان په افغانستان کې د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې په موخه له ۲۰۱۴ کال وروسته هم پرېږدي خو دا د افغانستان او امریکا ترمنځ د امنیتي او دفاعي تړون په لاسلیک کېدو پورې اړه لري.
ولسمشر حامد کرزي تر اوسه د یو لړ دلایلو له امله د دې تړون له لاسلیکولو ډډه کړې.
ولسمشر بارک اوباما وویل هیله من دی چې دا تړون د افغانستان له نوي ولسمشر سره لاسلیک کړي او په دې توګه له افغانستان سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.
د افغانستان د ولسمشرۍ ماڼۍ وایي، د امریکا ولسمشر بارک اوباما افغانستان ته په خپل سفر کې له افغان ولسمشر حامد کرزي نه غوښتنه کړې، چې د ملاقات لپاره د باګرام پوځي اډې ته ورشي.
د ولسمشر کرزي د دفتر مشر عبدالکریم خرم په کابل کې زموږ همکار حفیظ الله معروف ته ویلي، چې په کابل کې د امریکا سفارت د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت له لارې ولسمشرۍ ماڼۍ ته خبر ورکړی و چې ولسمشر اوباما غواړي له ولسمشر کرزي سره په باګرام پوځي اډه کې وګوري.
خو ښاغلی خرم وایي چې ولسمشر کرزي یې دغه غوښتنه نه ده منلې.
د نوموړي په وینا، ولسمشر کرزي ویلي که ښاغلی اوباما ارګ ته ورشي، د مېلمه په ډول به یې ښه هرکلی وکړي.
د ولسمشر کرزي د دفتر مشر، دا ونه ویل چې ولې ښاغلي اوباما غوښتل له ولسمشر کرزي سره په بګرام هوایي اډه کې وګوري؟
بګرام په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو تر ټولو لویه اډه ده.

نریندر مودي د هند د ...

د مودي د لوړې په مراسمو کې د ګډون کوونکو بهرنیو مېلمنو نوملړ اوږد دی، خو د سیال او ګاونډي هیواد پاکستان د صدراعظم نواز شریف ګډون په دغو مراسمو کې خاګړې اهمیت لري. له نواز شریف سره په دغه سفر کې یو ۳۰ کسیز هیئت ملګری دی چې پکښې پر نورو سربیره د ملي امنیت او بهرنیو چارو سلاکار سرتاج عزیز هم شامل دی.
دا لومړی وار دی چې د پاکستان یو صدراعظم د هندوستان د صدراعظم د لوړې په مراسمو کې ګډون کوي.
هند ته د پاکستان د صـــــدراعظم نواز شریف سفر د دواړو رقیبو هیوادونو تر منځ د نږدیوالي په برخه کې د یوه مهمې نخښې په توګه شمېرل کېږي.
د افغانستان د ولسمشرۍ له دفتر څخه په خپره شوې وینا پاڼه کې راغلي دي چې ولسمشر حامد کرزی په دغو مراسمو کې د ګډون له پاره د دوشنبې په ورځ نوي ډهلي ته تللی دی. خبر پاڼه زیاتوي چې افغان ولسمشر به په دغو مراسمو کې د ګډون تر څنګ د دغه هیواد د یو شمیر لوړپوړو چارواکو سره ووینې. په دغه سفر کې له حامد کرزي سره د بهرنیو چارو د وزیر ضرار احمد عثماني تر څنګ د ملي امنیت مشاور ډاکټر رنګین دادفر سپنتا هم ملتیا کوي.

د ملي اردو د منسوبینو ...

ویاند جنرال ظاهر عظیمي په وینا دا یو ځانمرګی برید و، چې وایي پایله کې دوه کارکونکي وژل شوي او نهه نور ټپیان دي.
کابل پولیس وایي، چاودنه د کابل ښار په ۱۶ مه امنیتي حوزه سیمه کې شوې او هدف یې هغه ګاډی و، چې د دفاع وزارت کارکونکي یې لېږدول.
شبیه مخکې وسله والو طالبانو په یوه پیغام کې ویلي برید د دوی ملګرو کړی او وایي هدف یې د دفاع وزارت کارکونکي وو.

هفتاد هزار کارت نظارت ...

برای نظارت معرفی کنند. در حالی که در دور نخست انتخابات ریاست جمهوری شمار ناظران تمامی نامزدان ریاست جمهوری به ۸۰۶۵۴ تن می رسیدند.
سخنگوی این کمیسیون می گوید که اگر نامزدان ریاست جمهوری ناظران شان را در روز انتخابات به محل های رای دهی نفرستند شکایت آنان نیز در پیوند به تخطی ها و تقلب های انتخاباتی پذیرفته نخواهند شد.
آقای نور می گوید که نامزدان ریاست جمهوری در دور نخست انتخابات از تخطی ها و تقلب های انتخاباتی شکایت های بسیاری داشتند. از همین رو کمیسیون مستقل انتخابات در دور دوم انتخابات ریاست جمهوری برای شفافیت بیشتر انتخابات تصمیم گرفته است، تا شمار ناظران نامزدان ریاست جمهوری افزایش یابند.
سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات می گوید: " در مجموع ۷۰ هزار کارت نظارت برای ناظران دو نامزد ریاست جمهوری در دور دوم انتخابات در نظر گرفته شده است تا اینان به شکل گسترده نه تنها توسط یک ناظر دریک محل نظارت کنند، حتا می توانند بالاتر از یک ناظر از محل های رای دهی از اول تا آخر روز نظارت کنند. "
نور محمد نور می گوید که این کمیسیون به تازه گی نزدیک به یک هزار و پنج صد تن را برای آگاهی دهی در باره انتخابات نیز استخدام کرده است، تا آنان در بخش های دوردست کشور بروند و به مردم درباره انتخابات آگاهی بدهند.
سخنگوی این کمیسیون می گوید: " مبلغینی که استخدام شده اند در باره اهمیت انتخابات اطلاع رسانی می کنند و مردم را برای شرکت در انتخابات تشویق می کنند، تا سطح آگاهی مردم بالا برود و مردم در دور دوم انتخابات نیز حضور گسترده داشته باشند. "